# ښکیلاکي جګړې افغانان واښو خوړلو ته اړ ایستلي،
# شرم او ننګ دې وي پر ښکیلاکګرانو!

د بدمرغۍ، بېوزلۍ او د سختې وچکالۍ له امله د افغانستان د ستمځپلي ولس لخوا د واښو خوړل څه نوې خبره نه ده. دغه ډول جنایتونه کلونه کلونه دي چې تکراریږي؛ د جهادي فاشیستانو اسلامي دولت پر ولسونو داسې د ژوند کړۍ راتنګه کړه چې ډېرې کسان له لوږې مړه شول او ډېرې کورنیو ګیاه او واښو خوړلو ته مخه کړه؛ بیا د اسلامي دولت او د اسلامي امارت فاشیستانو د جګړې لمن دومره وغزوله چې زموږ بېوزله ولس اړ شو چې له لوږې څخه د ژغورنې لپاره د واښو په خوړلو پیل کړي. دغه لړۍ لا پای ته رسیدلې نه وه چې دا وار د مجاهدینو د اسلامي دولت، د طالبانو د اسلامي امارت ټوپکمارو او پخوانیو ګوډاګیانو د افغانستان د اسلامي جمهوریت په اډانه کې له بهرنیو ښکیلاکګرو سره یوځای جګړه لاخونړۍ حالت ته ورسوله. دا ځل نه یوازې په ځمکې کې جنایت تر سره کیږي، بلکې له آسمانه هم د امریکایي جنایتکاران او د هغوی نور ناټویي متحدان زموږ پر بې دفاع خلکو بمونه راغورځوي او په هر برید کې د لسګونو بېوزلو انسانانو وینه په بېرحمۍ تویوي. اوسنیو جنایتکارانو یو وار بیا ستمځپلي افغان اړ کړي څو د ژوندي پاتې کیدو لپاره واښه وخوري، دا په داسې حال کې چې د دغو ښکیلاکګرو په وینا، ملیاردونه ډالر یې له افغانانو سره «مرسته» کړي ده. شرم او ننګ دې وي پر دوی!

د لوګر ولایت ازره ولسوالۍ له مودو راهیسې د فاشیستو طالبانو لخوا کلابنده ده. دغه کلابندي د دې لامل شوې چې د خوراکي توکو بیه په نوموړې ولسوالۍ کې دومره لوړه شي چې بېوزلي خلک یې د پېرودلو توان ونه لري. همدا اوس په دغې ولسوالۍ کې د وړو د ۴۹ کیلویي بوجۍ بیه ۵۰۰۰ افغانیو او د یوه ټیم غوړیو بیه ۳۰۰۰ افغانیو ته رسیدلې ده. د دغې ولسوالۍ خلک چې له طبقاتي پلوه ډېری یې کروندګر دي، په هیڅ ډول د دې توکو د پېرودلو توان او وس نه لري.

د نوموړې ولسوالۍ کلابندۍ څه موده مخکې درې ماشومان او دوه میرمنې د لوږې له امله ووژل. لوږه په دې ولسوالۍ کې د هرې ورځې په تیریدو سره سیوا کیږي؛ له دې کبله د ازرې ولسوالۍ وګړي اړ شوي چې د ژوندي پاتې کیدو لپاره ګیاه او واښه وخوري، ځکه د خوړلو لپاره بل څه نه لري. دا د یوویشتمې پیړۍ تر ټولو کرغېړن جنایت دی، دا جنایت د ښکیلاکي جګړې یوه برخه ده چې هم د امریکایي او ناټویي یرغلګرانو، هم د افغانستان د اسلامي جمهوري لاسپوڅي دولت او هم د افغانستان د اسلامي امارت فاشیستو طالبانو لخوا تر سره کیږي. د دې جنایت انتقام او غچ یوازې د خپلواکۍ، آزادۍ او برابرۍ په شعار پورته کولو او په دې لاره کې د ملي مقاومت په لاره اچولو سره اخیستل کیدای شي.

طالبان دا د منځنۍ پیړۍ ځناور د اوسنۍ ښکیلاکي او ارتجاعي جګړې یو اړخ جوړوي، چې واګې یې د امریکې او انګلستان په لاس کې دي. همدا اوس پاکستاني طالبان چې په کراتو یې اعلان کړی چې په اصطلاح د امیرالمومنین ملا عمر مجاهد تر لاربښوونې لاندې خپلې کړنې سمبالوي، سوریې ته رسیدلي څو د امریکې، اسرائیل او نورو لویدیځوالو امپریالیستو هیوادونو په ګټه د بشارالاسد د دولت په ضد وجنګیږي؛ همدا ډول د طالبانو اسلامي امارت د افغانستان د اسلامي جمهوري تر څنګ د امریکایي یرغلګرو هغه فاشیستي غلامان دي چې یو یې په «مدني» او «دموکراتیک» او «قانوني» ډول د امپریالیستانو د تیرې په چوپړ کې دی او بل یې د ځان وژنې، سر غوڅولو او سوځولو او ظاهراً له «کفارو» سره د جګړې له لارې د اشغال عمر اوږدوي او د امریکې دایمي پوځي اډو او شتون ته زمینه برابروي.

د یرغل په وړاندې د ذهني او عملي مقاومت هڅونه او بیا دغه مقاومت د خپلواکۍ په جګړې بدلول هغه وخت د ښکیلاک او وروسته د زبېښاک په وړاندې خپله رښتینې او واقعي مانا پیدا کوي چې دغه مقاومت هم د امریکایي او ناټویي یرغلګرو، هم د لاسپوڅي دولت، هم د فاشیستو طالبانو او جنایتکارو جهادیانو په وړاندې په معقول ډول مخې ته یووړل شي او د هغې دوکه مارۍ

منځپانګه چې دم مهال کله ناکله د لاسپوڅي دولت لخوا د امریکې په ضد، کله ناکله د امریکې او ناټویي هیوادونو لخوا د لاسپوڅي دولت او طالبانو په ضد کارول کیږي، او همدا ډول ځینې کړی چې د طالبانو فاشیستي کړنو ته د «ملي مقاومت» نوم ورکوي، بربنډ شي. ځینې ډلې، ان د ځینو «کین اړخو» ډلو په ګډون، طالبان «ملي مقاومت» ګڼي او په دې توګه د پاکستاني خاین او بنسټپال جنایتکار جنرال حمیدګل له ګوګل آواز راوباسي او په دې ډول د امریکې پر دروغجنو تبلیغاتو چې طالبان یې ځانته په فرضي دښمنانو بدل کړي دي، د تصدیق مهر لګوي. دغه ډلې دومره په ارتجاعي ډنډ کې ډوبې شوې دي چې د سیاسي بیراګانو په شان د طالبانو پر مبلغینو بدلې شوي او ان د طالبانو د «پرمختګ» او «ترقي» څخه ابته تیوري ګانې وړاندې کوي او نور هم دې ته هڅوي چې له دې فاشیستي ډلې سره د «هم اړخی» اوتې بوتې وواېي.

د افغانستان انقلابي سازمان د دې تر څنګ چې دغه وروستی جنایت په کلکه غندي، باور لري چې اوسنی ارتجاعي جګړه باید په انقلابي جګړې بدله شي او ټول یرغلګر او هغه مریيان او غلامان چې د یرغلګرانو د اسارت کړی یې پر غاړه اچولې ده او یا په نامستقیم ډول د یرغلګرو لپاره له جنایت ډډه نکوي، د افغانستان د خپلواکۍ دښمنان دي او دغه ټول غلیمان باید په پرمختللي ملي ـ دموکراتیک انقلاب کې چې په لومړي پړاو کې د ښکیلاک او له څنډ پرته له زبېښاک څخه د ولسونو د ژغورنې پړاو تضمین کړي، له منځه یووړل شي.

**مړ دې وي امپریالیزم**

**مخ په وړاندې، د سوسیالیزم په لور!**

د افغانستان انقلابي سازمان

د ۱۳۹۲ د چنګابښ ۲۷